لوګر
ماهنامه
میاشتنۍ خپرونه
Monthly Logar

سه شنبه د۱۳۹۹ کال د تلي میاشتې لومړۍ، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د سپټمبر دوه ویشتمه | ۴ | پرله پسې ګڼه (۱۱۵) لومړی کال، پنځمه ګڼه

# لوګري ځوانانو په جګړو ښکېلو لورو باندې غږ وکړ، چې بین الافغاني خبرې ژر ترژره پیل او اوربند دې وکړي






د زمري ۳۰ مه: په لوګر ولایت کې لوګري ځوانان په یوې راټولېدنه کې په افغان حکومت او په جګړو ښکیلو لورو باندې غږ وکړ، چې بین الافغاني خبرې ژر ترژره پیل او په هېواد کې دې اوربند وکړي، څو په هېواد کې دتلپاتې امنیت په شتون ولسونه آرامه ساه واخلي.

په دغه راټولېدنه کې چې د اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست په تالار کې ترسره شوه، دلوګر د ژورنالیستانو خپلواکې اداري مشر او دزینت راډیو بنسټ اېښودونکي نورالله ستانکزي په ګډون؛ د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، دقومونو او قبایلو چارو رییس فضل المعبود دانش، فعالو ځوانانو، د رسنیو استازو او په لسګونو نورو ځوانانو برخه اخیستې وه.

نورالله ستانکزي راغلو ځوانانو ته دښه راغلاست ترڅنګ یادونه وکړه، چې دبین الافغاني مذاکرو په مشرۍ کې لوګري مشران دي، چې زموږ غوښتنه له همدغو مشرانو داده، چې د جګړو پای ته رسولو په لاره کې بې سارې هلې ځلې وکړي او دافغانانو هیلو ته چې هغه دجګړو خاتمه ده، لبیک ووایي.

عبدالرحمن تسل وویل، چې افغانان په دا تېرو څولسیزو کې دجګړو قرباني شوي، نور نه غواړي، چې قرباني ورکړي؛ بلکې قرباني ته هغه مهال چمتو دي، چې په هېواد کې تلپاتې امن راشي او ځوانان وکولای شي، دخلکو په چوپړ کې واوسي.

ده دجګړو په ښکېلو خواوو هم غږ وکړ، چې روانه جګړه دې ودروي او د بین الافغاني مذاکرو پیل ته دې غاړه کېږدي.

د قومونو او قبایلو چارو رییس هم دسولې په ارزښت او اهمیت وینا وکړه، ویې ویل، چې سوله ټولو افغانانو لپاره مهمه اړتیا ده، ځکه د سولې پرته هېڅ ژوند او پرمختګ نشي ترسره کېدای.

دقومونو او قبایلو چارو رییس سوله الهي امر وبلل، زیاته یې کړه، چې په سوله کې خیر دی، نو مسلمان ولس دې دالهي اوامرو تابع واوسي او پرې نږدي، چې څوک دالهي امر خلاف کړنې ترسره کړي.

سیداجمل سروش؛ په هېواد کې د تېرو نظامونو په اړه رڼایي واچوله زیاته یې کړه، چې مخکیني نظامونو حکومت خپل ارثي ګڼل، خو دوی هېڅکله د مخالف لوري او د ولسونو غږونو ته غوږ نه ایښودل، چې پیلامه یې په هېواد کې د وینې تویېدو، ویجاړیو او وژنو سبب وګرځېدل او په پایله کې هماغه دوخت نظامونه راوپرځېدل.

سروش په جګړو ښکېلو لورو ته دهېوادوالو غوښتنې یادې کړې، وې ویل، چې هېڅ برېیا په جګړو نه دی ګټل شوې، بلکې برېیا ته د رسیدو لار په خپلو کې ملي یوالي او پخلاینه ده، چې د ولس غږ دواړه لوري واوري او د ولس دخیر غوښتنې لپاره هلې ځلې او دیوې حل لارې په لټه کې شي.

همدارنګه څو تنو نورو ځوانانو هم دسولې راوستو، تلپاتې اوربند او دبین الافغاني خبرو د ژرترژره دپیلېدو په اړه خبرې وکړې.

د غونډې په پای کې پنځه مادییز پرېکړه لیک هم صادر شو، چې پکې راغلي؛ په جګړو ښکېلې خواوې افغانان دي؛ خپلمنځي اختلافونو ته دحل لارې په ګوته، د شلو کلونو لاسته راوړنې لکه: د بشر حقوق، دبیان آزادي، جمهوریت او دیموکراسي د اسلام په رڼا کې ساتنه، نړیوالې ټولنې او مرسته کوونکي هېوادونه دې دبین الافغاني مذاکرو نه غوځ ملاتړ او همکارۍ کې مهم رول په سمه توګه اداء او د جګړو دواړو لورو ته یادونه کړې، چې د اوربند او سولې په راتلو کې خپل اسلامي، ایماني او افغاني مسؤلیت سرته ورسوي.

## د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا د کتاب کمپاین لړۍ بیا ځلې پیلېږي



د وږي ۲۴ مه: د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په نوښت او د افغانستان د معلوماتو د مرکز په ګډه همکارۍ په لوګر ولایت کې د بیلابیلو دولتي او خصوصي ښوونځیو او بنسټونو ته شا او خوا ۱۴۰۰ ټوکه کتابونه د (کتاب کمپاین) تر عنوان لاندې د ویش لړۍ پیل شي.

دلوګر د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل وایي، چې له دې چارې څخه یې موخه داده، چې د تنکیو ځوانانو او د کتاب مینوالو په منځ کې د کتاب مطالعې دود پیاوړي کړي او په دې سره وکولی شي ځوانان د کتاب مطالعې ته را مات کړي.

تسل زیاته کړه، چې په دې کمپاین کې به هرښوونځي ته له ۴۰ څخه تر ۸۰ ټوکه کتابونه ورووړل شي او دښوونځیو کتابتونونو ته به تسلیم شي.

د یادونې وړ دی چې له دې وړاندې هم د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست او د افغانستان د معلوماتو مرکز په ګډه همکارۍ د کتاب کمپاین تر عنوان لاندې لړۍ کې شا او خوا ۹۰۰ ټوکه بېلابېل کتابونه ویشل شوي ؤ، چې دا کمپاین د کتاب د مینوالو لخوا له تود هرکلي سره مخ شو.

## مکتب ابتدایه خواجه اسماعیل، در ولسوالی چرخ تازه تاسیس شد

یک مکتب ابتدایه نسوان در ولسوالی چرخ لوگر تازه تاسیس شد که برای سیصد تن دانش آموزان دختر زمینه آموزش در آن فراهم می گردد. شاه پور عرب سخنگوی ریاست معارف لوگر می گوید که این مکتب ابتدایه درمنطقه خواجه اسماعیل ولسوالی چرخ به اساس خواست باشنده گان محل وسعی وتلاش ریاست معارف لوگر، از سوی وزارت معارف تاسیس شده است که زمینه آموزش برای 300 شاگرد دراین مکتب ابتدایه فراهم می گردد، آقای عرب علاوه کرد که در ولسوالی چرخ سی ویک باب مکتب وجود دارد. نثاراحمد سیدی سرپرست معارف لوگر می گوید که قبلاً درقریه مذکور مکتب نسوان وجود نداشت ودانش آموزان درقریه جات دیگر به مکتب می رفتند، وی ازباشنده گان محل خواست که اطفال شانرا به مکتب روان نمایند.

مسوولین معارف در لوگر خبر می دهند که بیست باب مکتب دیگر نیز تازه تاسیس خواهد گردید.

## دلوګر په ازرې ولسوالۍ کې یوې دیني مدرسې ته ودانۍ جوړېږي

د وږي ۱۷ مه: د لوګر ولایت په ازرې ولسوالۍ کې د عزیز المدارس په نوم یوې دیني مدرسې ته د ودانۍ جوړولو کار رسماً پیل شو.

په دې تړاو مراسم جوړ شوي ؤ، چې د یادې ولسوالۍ د پوهنې آمریت کارکوونکو، دیني عالمانو او قومي مشرانو برخه اخیستې وه.

دلوګر د پوهنې ریاست ویاند محمد شاه پور عرب لوګر جریدې خبریال ته وویل، چې دغه مدرسه د افغان حکومت د ملي بودجې له لارې جوړېږي، چې شاوخوا ۱۱ میلیونه افغانۍ لګښت به پرې را شي. عرب زیاته کړه، دغه ودانۍ ۲ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې، میز او څوکۍ، د اوبو څاه، د احاطې دېوال او ۵ غرفې تشنابونه ولري، چې د جوړېدو چارې به یې په ۲ میاشتو کې بشپړې شي. د پوهنې ریاست دمعلوماتو له مخې؛ په لوګر کې دا مهال ۲۹ دیني مدرسې، دارالحفاظونه او دارالعلومونه فعالیت لري، چې ۲۵ یې لاهم ودانۍ نه لري. په یادو دیني مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو کې ۳۴۰۰ طالب العلمان زده کړې کوي، چې ۸۵۰ یې نجونې دي.

د یادونې وړ ده، چې په ازرې ولسوالۍ کې د حضرت یحی او عزیزالله په نومونو د دوو نورو دیني مدرسو ودانۍ هم تر کار لاندې دي.

## تحت عنوان (ما صلح می خواهیم و از مذاکرات بین الافغانی پشتیبانی می کنیم) مراسم شعرخوانی درلوگر برگزارگردید



**تحت عنوان (ما صلح می خواهیم و از مذاکرات بین الافغانی پشتیبانی می کنیم) مراسم شعرخوانی به تاریخ 24 سنبله درمرکز ولایت لوگر ازسوی ریاست اطلاعات فرهنگ برگزارگردید که دراین برنامه شعرخوانی شاعران،فرهنگیان وادیبان ضمن استقبال از آغازمذاکرات بین الافغانی، خواهان پایان جنگ وتامین صلح باعزت وسرتاسری درکشورشدند.**

**پروگرام که به این مناسبت درریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر دایرگردیده بود، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ،شاعران،نویسنده گان،ادیبان،فرهنگیان وده ها تن ازجوانان اشتراک ورزیده بودند.**

**دراین مشاعره شاعران با اشعار میهنی، طنزی وحماسی شان دررابطه به صلح، پایان جنگ وکشمکش ها، آغازمذاکرات بین الافغانی و حفظ ارزش های ملی اشعارشانرا دکلمه نمودند.**

**عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که این مشاعره بمنظور تامین صلح وحمایت از آغازمذاکرات بین الافغانی، برگزارشده است تا شاعران، فرهنگیان وادیبان درقالب شعرومنظومه های شان صدای صلح را به طرف های مذاکره کننده برسانند، وی گفت که اهل قلم وشاعران نقش بارزیی درتغیر اذهان عامه دارد واین ریاست درصدد آن است تا برنامه های بیشتری را برای تامین وحدت ملی ورفاه کشور راه اندازی نمایند.**

**سیف الرحن غریب یار یکتن ازشاعران، صلح را خواست همه مردم عنوان کرد و زندگی درفضای امن را برای پیشرفت وآبادانی کشورمهم تلقی نمود ودرکلمات زیبایی شعری اش خواهان تامین صلح شد.**

## نشست علمی وادبی پیرامون ارزش فرهنگی وتاریخی اسطوره سلطان سیداحمد کبیر در لوگر برگزار گردید





ریاست اطلاعات و فرهنگ لوگر طی نشست های جریان ادبی و فکری، پیرامون منظومه نوشته شده توسط استاد عبدالغفور لیوال در وصف داستان اسطوره یی سلطان سید احمد کبیر نشست ادبی برگزار کرد که درآن مشمول عبدالغفور لیوال سفیر کشور درایران، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات و فرهنگ لوگر، الله محمد اتل مشوانی استاد پوهنتون، لطف الله تایب، محب الله آرمل آمر رادیوتلویزیون لوگر واختر محمد ژوندون سخنرانی نمودند که درصحبت هایشان منظومه سلطان را حماسه عرفانی وتاریخی عنوان کردند.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات و فرهنگ لوگر درآغاز برنامه به مهمانان خوش آمدید گفت و خاطر نشان ساخت که منظومه سلطان اسطوره عرفانی است که با پیام محتوای نجات مردم از شر و تشویق آنان به کار های نیک می چرخد.

وی از فرهنگیان وادیبان خواست که در راه اندازی همچون پروگرام ها علمی، ادبی وفرهنگی این ریاست را یاری رسانند تا تجارب وداشته های ادبی و علمی آنان به دیگران انتقال یابد.

استاد عبدالغفور لیوال سفیر کشور درایران که اسطوره سلطان سید احمد کبیر را به شکل منظومه درآورده است می گوید اگر در دیگر کشور ها همچون حماسه تاریخی و عرفانی می بود از آن بیشتر استفاده می کردند و به بخش مهم عایداتی مبدل می شد، به گفته استاد این اسطوره دارای ارزش عرفانی می باشد که پیام آن محبت و ارزش دادن به کرامت انسانی است.

درقسمت از پروگرام محمد اتل مشوانی استاد پوهنتون روی منظومه یاد شده سخنان ارزشمند ایراد نمود، همچنان اختر محمد ژوندون ومحب الله آرمل آمر رادیوتلویزیون لوگر نیز در بخش های از برنامه صحبت نمودند و اهمیت معنوی منظومه اسطوره سلطان را پر از سخنان و نکات گهربار عرفانی وتاریخی عنوان کردند و گفتند که پیام این اسطوره تاریخی شناسایی جوهر اصلی انسان و همدیگر پذیری می باشد.

قابل یاد آوری است که استاد لیوال و سخنرانان برنامه، این فعالیت ریاست اطلاعات و فرهنگ را ستودنی خواندند و خواهان راه اندازی همچون برنامه ها شدند.

## د لوګر د نجونو یوه ښوونځي ته ځمکه وقف شوه

د وږي ۵ مه: د لوګر په مرکز پل علم پورې اړوند د حصارک د کلي یوه قومي مشر د ښوونځي جوړولو لپاره خپله یو جریب ځمکه وقف کړه. د پوهنې ریاست ویاند دجریدې خبریال ته وویل: دغه ځمکه د الحاج اسدالله عابد په نوم یوه قومي مشر د بي بي عایشې په نوم د نجونو لومړني ښوونځي ته وقف کړې ده.

عرب وویل، د یادې ځمکې قباله د نومړي ښوونځي د سرښوونکي محمد موسی صاحب زاده له خوا د پوهنې سرپرست رییس نثار احمد سیدي ته ورکړل شوه. عرب زیاته کړه؛ چې یاد ښوونځی پر ۱۳۸۲ کال کې تاسیس شوی، چې دا مهال د ودانۍ د نه لرلو له امله په یوه نیول شوي کرایي کور کې فعالیت لري.

د پوهنې ریاست دمعلوماتو له مخې؛ په لوګر کې تر دې مخکې هم یو شمېر دیني عالمانو او قومي مشرانو د ښوونځیو د جوړولو لپاره ځمکې وقف کړې دي.

د امتیاز خاوند: لوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست
لوګر Logar
یادونه: لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده.
مسؤل مدیر: شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۹۹۱۳۱۸۳۵
کتونکي ډله: عبدالرحمن «تسل»، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»
خبریال: محمد موسی «عدیل»
ډیزاینر: امینی «ستانکزی»
فیسبوک پاڼې: www.facebook.com/دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست
www.facebook.com/ لوګرمیاشتنۍ
که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.
داړیکې شمیره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
دبرښنالیک پته: Shir.stanikzai2@gmail.com
چاپ خای: آزادی مطبعه